مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۶/۰۹/۲۶

# د افغان مېرمنو د رواني امنیت فرهنګي زمینه

په ټولنه کې ځیني وګړي یا اقشار تر نورو زیات له ګواښ و زیان سره مخ وي. د دې لپاره چې دوی په ټولنه کې ځان له ګواښ سره مخ ونه ویني ، رواني امنیت ته اړتیا ده. د رواني امنیت بحث د یوې ټولنې له فرهنګي، اقتصادي او مدني وضعیت سره تړلی دی.

د درېیمې نړۍ په ګڼو ټولنو کې ښځې، ماشومان او کډوال د مناسب رواني امنیت احساس نه کوي. په ځینو ټولنو کې چې لا هم د کاست یا سیال و ناسیال ویش پاتې دی، د ټیټو طبقو خلک هغه امنیت نه‌لري، چې نور ترې برخمن دي. په افغانستان کې له دې اړخه وضعیت څنګه دی؟ څوک د رواني امنیت احساس نه لري؟ تاریخ او فرهنګ په دې اړه څه وایي؟

**چې د زلفو په زنځیر یې زمري بند کړل**
**هوسی سترګی زوروې نه دي څه دي**

**چې د باغ سروې یې پستې تر قامت دي**
**ښېنتنې په قامت سترې نه دي څه دي**

که نړۍ یو باغ وي او نورې ښځې یې د سروو په شان قامت ولري، نو د خوشال بابا په نظر د افغان مېرمنو قامتونه تر دې سروو لوړ دي. دا هغه هوسی دي، چې زمري هم په زنځیرونو تړلی شي. په استعاري اخیستنه زموږ نومیالی شاعر دعوی کوي، چې افغان مېرمنې تر هیچا کمې نه دي.

که د خوشحال بابا پوهه او همت په نورو کې هم وای او همداسې یې له تېرو څلورو پېړیو راپه دېخوا افغان مېرمنو ته انګېزه ورکولای اوس به مو ټولنه له فرهنګې پلوه په دومره محرومیتونو کې راګیر نه وای.

څه موده وړاندې خبرونه خپاره شول، چې دوه افغان مېرمنې په جلاوطنۍ کې د خپلو کوربه هېوادونو مهمو تقنیني، خدماتي او اداري څوکیو ته په سیالی ودرېدې. دا لومړني خبرونه نه‌دي، تر دې وړاندې هم افغان مېرمنې د لویو هېوادونو پارلمانونو ته بریالی شوې دي، د روغتیا په برخه کې ځلېدلې، یوې افغانې مېرمنې د سرطان د درملنې په برخه کې نړیوالې جایزې واخیستې او څه شمېر نورې د ټولنیز ژوند په نورو برخو کې د رهبرۍ تر بریده وړاندې ولاړې.

له دې څخه څرګندېږي، چې که ټولنیز چاپېریال خوندي وي، فرهنګي زمینه برابره وي او حق وغوښتل شي، افغان مېرمنې د نړۍ تر نورو هغو یو سروغاړه هسکه وړلای شي.

دا استعدادونه ولې یوازې په جلاوطنۍ کې ځلېږي؟ ولې په خپل وطن کې د هغې افغان مېرمنې له روغتیایي نبوغ څخه ګټه اخیستل کېدلای نه‌شي، چې د سرطان په درملنه کې یې نوښت وکړ، ښایي هره ورځ له همدې ناروغۍ څو تنه په افغانستان کې ومري. ولې دلته داسې او هلته هسې؟

د استعدادونو او ظرفیتونو د کارېدلو لپاره فرهنګي زمینه بویه، مساعد ټولنیز ذهنیت او مناسب ژوند چاپېریال. دا ټول بیا د رواني امنیت په څرنګوالي پورې تړلي، چې ښایي نن یې سم وپېژنو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

رواني امنیت  هغه چاپېریال دی، چې وګړي په کې له ویرې، تحقیر او ګواښ  پرته ځان وښوولی شي، او خپل انساني ظرفیتونه او استعدادونه وکارولی شي.

 د رواني امنیت تشه  ټولنه له ګڼو استعدادونو بې‌برخې کوي.  د رواني امنیت لپاره لازم فرهنګي بستر پکار دی، چې له کورنۍ، ښوونځي  او ژوند چاپېریال څخه راپیلیږي.  دا یوازې سیاسي – حقوقي بحث نه دی،  بلکې تر ډېره بریده فرهنګي - پیداګوژیکه مسئله ده.  د رواني امنیت لپاره تر ټولو لومړنی مهم چاپېریال کورنۍ ده.  موږ څومره خپلو نجونو ته دا احساس ورکوو، چې هغه د خپل ژوند هر لوی ارمان او  هدف ته رسېدلای شي.

متخصصان په دې نظر دي، چې هر انسان د چاپېریال، ژوند او طبیعت په اړه لومړنی ډاډ او پرځان باور له کورنۍ څخه زده‌کوي، په سالمه کورنۍ کې رالوی شوي ماشومان د یوې سالمې ټولنې په جوړولو کې اساسي ونډه لري، که په ماشومتوب کې کورنۍ د یوه وګړي د خوندي ژوند احساس ورڅخه وانه‌خلي، ټولنه خو د همدې وګړیو ټولګه ده، نو خامخا به د دوی په ګډون جوړه شوې ټولنه د هر انسان رواني امنیت او ډاډمن ژوند چاپېریال جوړوي.

تجربو ښوولې چې ګڼ هغه وګړي، چې ټولنیز امنیت ګډوډوي په کوشنیوالي کې ځورول شوي او له عقدو سره رالوی شوي دي. د سالمې ټولنې جوړولو لپاره د ماشوم‌روزنې سالم ژوندچاپېریال اړین دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ